# په افغانستان کې د کرنيزو کاروبارونو پيژندنه او اهميت

پوهنوال داکتر خال محمد احمدزی
د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې استاد، د کرهنی پوهنځی، دکابل پوهنتون
ایمیل: ahmadzaikhalmohammad@gmail.com

**لنډيز**

کوچني کاروبارونه په حقيقت کې محلي اقتصادي فعاليتونه دي، چې د يوه پرمختيايي هېواد لپاره د دوی د لومړني او نوي په پښو دريدلي صنعت (infant industry) يو پياوړی بنسټ جوړوي. په کرنه کي ډير کاروبارونه د راتلونکي صنعت او اقتصادي پرمختيا اساس جوړوي. افغانستان په اوسنيو شرايطو کې د دې امکانات نلري، چې لوی او ثقيله صنايع چې اتومات، الکترونيزه او پوره ميکانيزه وي، شروع کړي. بلکې لکه د نورو وروسته پاتې هېوادونو غوندې د وړو کاروبارونو ايجاد ورته مناسب او مهم دي. په دې کې شايد زياته برخه يې دانفرادی او کوچينو ټوټو ځمکو لرونکو بزګرانو کاروبارونه وي، چې نن ورځ اوچت ارزښت لري. دا ډول کارونه د اقتصاد دعلم له پلوه په (micro economics) يا کوچني اقتصاد پورې اړه لري، چې د تصدی اقتصاد هم روته وايي. په افغانستان کې د زراعتي وړو کاروبارونو د ايجاد اړتيا له دې څخه ثابتولاي شوچې ډير افغانان بېکاره دي او کلونه کلونه د دندې په لټه کې دي، خو خپله د دې فکر نه کوي چې يو عادي کار وبار را پيل کړي. په نوره نړۍ کې د دولتي دندو سربيره، شخصي کمپنۍ (خصوصی سکتور) په زيات حجم سره کارمندان استخداموي، نو د استخدام د فرصتونو د ايجادولو لپاره لازمه ده چې زراعتي کوچني کاروبارونه رامنځته شي.

**مهم ټکي**: زراعتي کاروبار، دکرني سکتور، د زراعتي کاروبارونو پيژندنه او تحليل

# Introducing and importance of agribusiness in Afghanistan

Associate prof. Khal Mohammad Ahmadzyi
Economic and Extortion Department, Agriculture Faculty, Kabul University

**Abstract**

Agribusiness is the process of achieving desired results in agriculture sector with the given resources. A key to successful agribusiness management is accepting responsibility for leadership and making business decisions through the skillful application of management principles. Management of agribusiness is unique due to biological nature of production, the seasonality of food and agricultural markets, the significance of food to people, and the perishability of agricultural products. The management functions are implemented through the use of a variety of skills, principles and tools that help developing agribusiness manager's knowledge and ability. To be successful, the agribusiness manager must be able to carry out the five tasks for each of the four basic functions of the agribusiness; that is, marketing and selling, production and operations, financial management and planning, and management of human resources. The management process is often divided into five tasks: planning, organizing, staffing, directing and controlling. Planning is determining a course of action to accomplish stated goals: organizing is fitting resources and people together in the most valuable way; staffing is the function of management committed to hiring, training, appraising, and benefiting employees; directing pertains to motivating and supervising people and controlling function monitors performance and makes adjustments if needed.

**Kewords:** Agribusiness, agriculture sector, agribusiness introduction and analysis

**سریزه**

زراعتي کاروبارونه هغه دي چې د دهقان، څمکوال یا بزګر او مالدار له خوا په فردي ډول یاهم په ټولنیز ډول تولیدات او خدمات ارایه کوي، چې موخه ورڅخه د عاید تر لاسه کول وي. دغه ډول کاروبار لږې سرمایې ته اړتیا لري او عایدات یې هم د ثقیله او درنو صنایعو او غټې پانګونې په پرتله لږ وي. په کوچنیو کاروبارونو کې د ګڼ کتلوی صنعت په پرتله کم شمیر کسان په کار بوخت وي. کله چې په اقتصاد کې د نویو تجارتونو په اړه خبرې کیږي، نو ډېر وخت د تجارت له نوم سره د ډېرې پانګونې، د کاروبار لپاره د پراخ ځای، او د ډېرو امکاناتو معنا او مفهوم ذهن ته تداعي کیږي. حال دا چې هر عاید لرونکي کار او فعالیت په خپله یوه سرمایه ګذاری او تجارت دی. توپیر په دې کې دی چې پرمختیایي هېوادونه له کوچنیو کاروبارونو شروع کوی او لوی ثقیله صنعت او لویې پانګونې ته رسیږی. زیاتره هغه هېوادونه چې اوس ښه اقتصاد لري له کوچنیو تجارتونو څخه یې پیل کړی ده، دا زموږ ستونزه ده چې کله مو هم د کوچنیو تجارتونو فرصتونه نه دي پلټلي. د دغې علمي مقالې اصلي موخه په افغانستان کې د کوچنیو کاروبارونو د ایجاد او پیاوړتیا د فرصتونو لنډ تحلیل او د کاروبارونو پیژنده په ګوته کول او د کرنیزو کارو بارونو مدیریت ده ترسره شوی دی. په دې علمي مقاله کې به هغه کاروبارونه هم وپیژنې چې زموږ هېواد کې یې د پرمختګ ښه امکانات شته. دکرني دکاروبار پراختیا په خپله د کرنیزو توکو لپاره د مارکیټ د پراختیا څخه علاوه په خپله د کرني د سکتور د کارکوونکو د عوایدو د زیاتوالی سبب ګرځي، چې ددي په نتیجه کي دهقانان پرته د کرنیزو توکو څخه د ژوندانه د نورو اړتیاوو لپاره دنورو شیانو په رانیولو باندي خپل لګښت کي زیاتوالي راولي چي په پایله کي د دغه اضافي تقاضا له وجهي بازارونه پراختیا پیدا کوي او اړونده صنعتي تولیدوونکي خپل تولیدات له پخوا زیاتوي او د زیات تولید د ګټورتوب څخه ګټه پورته کوي چي په دی ډول د اقتصادي پرمختیا لپاره اسانتیاوي رامنځته کیږي (۱۰). د دغې علمي مقالې اصلي موخه په افغانستان کې د کوچنیو کاروبارونو د ایجاد او پیاوړتیا د فرصتونو لنډ تحلیل او د کاروبارونو پیژنده په ګوته کول او د کرنیزو کارو بارونو مدیریت باندې بحث کول دي.

**تیرو لیکنو ته کتنه**

په ډېرو هېوادونو کې کوچني کاروبارونه د محلي او کلیوالي تشبثاتو او د بزګري د کارونو په معنا هم استعمالیږي، د بیلګی په توګه چین په عصری- میکانیزه صنعت کې یو پرمختللی هېواد دی، خو لا هم زرګونه د لاسی صنعت او کوچنیو کاروبارونو بیلګې پکې شته. په آلمان کې د پوره صنعتي کیدو

تر وخته په زرګونه د لاسي صنعت او کوچنیو کاروبارونو تولیدی واحدونه و. په دې برخه کې علمي آثارو کې دغه موضوع په ډېر ښه ډول واضح شوې ده چې دلته یې د یو شمیر بیلګو یادونه کوو:

- د امریکا په متحده ایالاتو کې د کورنیل او پرینستون پوهنتون نامتو پروفیسورانو: Robert H.Frank او Ben S.Bernanke په ۲۰۰۱م. کال کې د Principles of Economics تر عنوان لاندی یو ډېر ګټور درسي کتاب لیکلی چې د McGraw-Hill کمپنی خپور کړی دی، د دغه کتاب په شپږم څپرکي کې (اقتصاد په اوږده لاره کې) تر عنوان لاندي په اقتصادي وده، مولدیت، کارګرانو، بیکاري، سپما او د پانګې په تشکل بحث کوي. په دې کې یې د کوچنیو کاروبارونو رول ښودلی دی. په دغه اثر کې هم د کوچینو کاروبارونو او د کوچنیو پانګو رول پر استخدام او د بیکاري له منځه وړلو او د اقتصادي ودې په هلکه بحث شوی دی (۵).
- Investopedia چې له ۱۹۹۹ یمو کلونو راهیسې په نړۍ کې د مالي او تجارتي مسایلو په اړه څېړنه کړي، د دوی د تعریف پر اساس واړه او متوسط کاروبارونه هغه کاروبارونه دي چې خپله سرمایه، عاید، د کارمندانو تعداد او کار ځای د یو تعیین شوي مقدار تر حده وساتي، له دې څخه ښکاري چې کوچني کاروبارونه لا هم په اقتصاد کي اوچت ارزښت لري او باید توجه ورته وشي (۷).
- د انګلستان نامتو لیکوال او اقتصادپوه (W.H. Stewart) په ۱۹۷۸م. کال کې د ( What is Industrial Economics) تر عنوان لاندي د صنعت او په اقتصاد کي د صنعت د رول په هکله غوره اثر لیکلي دي چې د صنایعو او کاروبارونو لپاره ښه reference او لارښود دي (۹).
- په ۲۰۱۵م. کال کي نړیوال بانک د افغانستان د کرني په برخه کي یو تفصلي راپور ورکړی چي کرنه یي د افغانستان د پرمختګ مهم عامل بللی دی، خو هغه نیمګړتیاوی چي ددغه مهم سکتور لپاره د لا زیات کار کولو په برخه کي شته، هغه یي هم په ګوته کړی دی، یعنی یو منتقدانه راپور دی (۸).
- میشل تودارو (Michael Todaro) په ۱۹۹۷ م. کال کې د ( Economic Development (six edition) په نوم خپل اثر کي د پرمختیايي هېوادو اقتصاد تحلیل کړی او د کرني رول یي پکې څرګند کړی دی. پورتنی ټول کتابونه عمومی دی او تیوریکي اړخ لري، یعنی د افغانستان د کرني او دراتلونکي اقتصاد او پرمختیا په هکله ډېر ګټور دی. دغه موجود تحقیق خاصتاً دافغانستان په ملي اقتصاد کي د کرني د رول په هکله دی (۴).

پورتنیو معتبرو اخځونو او څیړنو ته په کتنې سره موږ هم دا وموندله چې زراعتي کاروبارونه د یو هېواد د اقتصاد پرمختگ کې ټاکونکي رول لري. زموږ د څیړنی نتایج د کرنې د نامتو متخصصینو او پورتینو مطالعاتو سره بشپړ مطابقت لري.

## د کرنې پېژندنه

دبشر دپیدایښت سره سم دهغوي دخوراك او لباس ضرورتونه رامنځته شول او دهمدغه ضرورتونو درفع کولو لپاره انسانان له هماغه ورځې په ځمکه کې په لټه کې دی. دوخت په تیریدو سره نفوس زیات او دانسانانو په ضرورتونو کې تنوع او زیاتوالی رامنځته شو، چې په نتیجه کې په ځمکه کې ترسره کیدونکو فعالیتونو دنویو ضرورتونو په رامنځته کیدلو سره تغیر وکړ، دوخت په تیریدوسره ورو ورو کرنیز تولید تجارتي او سرمایوي بڼه غوره کړه او زراعتي فعالیتونه په صنعتي شکل رامنځته شول، په فارمونو کې دعوایدو او مصارفو دتخمین او دگټې دزیاتولو هڅې شروع شوې او په نتیجه کې یې تر پخوا زیاتې ځمکې دکرنیز پوښښ لاندې راغلې، بلاخره داسې وخت راغی چې دځمکې کمښت احساس شو او دپراخه کرنې په ځای دژورې او بهترې کرنې ضرورت پیدا شو. داچې له یوی خوا نفوس هم په چټکۍ سره مخ په زیاتیدو وه او له بله اړخه داقتصاد نورې برخې هم لا تردي مهاله پر مخ نوي تللي نو خلك په همدې سکتور کې په کار او روزگار بوخت شول (۳).

په کرنیزه ځمکه کې دخلکو دزیات هجوم او بوختیا له امله پته بیکاري رامنځته شوه او د میراث له امله ځمکې په وړو وړو ټوټو وویشل شوی، له همدې امله ضرورت پیښ شو چې دکرنیز اقتصاد تر نامه لاندې دغه ټول موضوعات چې په زیاتیدونکي ډول یې اقتصادي اړخ غوره کاوه، ښه تحلیل او دحل لارې چارې ورته ولټول شي لکه:

دځمکې او دکر کیلې ستونزې، زراعتي بیکاري، کرنیز پورونه، دزراعتي محصولاتو لپاره بازار موندنه، زراعتي کوپراتیفونه، دزراعتي محصولاتو قیمتونه، دځمکې څخه بهتره استفاده دمصارفو راکمول او دضایعاتو مخنیوی او بالاخره دگټې زیاتوالی ټول هغه په زړه پوري مسایل وه چې څېړنې او پلټنې ته یې اړتیا احساسیدله (۱).

اوس مهال کرنه په یو اقتصاد کې د مادي تولید یوه اساسي برخه او دملي اقتصاد په سکتورونو کې یو مولد سکتور دی چې د نړۍ د ډېرو هېوادونو، په تېره بیا د بېرته پاتې او پرمختیایي هېوادونو په ټولنیز مجموعي تولید کې فعاله ونډه لري, همدارنگه د نفت لرونکو هېوادونو څخه پرته د نړۍ د ټولو پرمختیایي هېوادونو د بشري قوی زیاتره برخه د کرنې په سکتور کې بوخته ده. چې په دې توگه د دې هېوادونو د صادراتواو ملي عاید عمده برخه کرنیز محصولات تشکیلوي.

کرنې د بشري تاريخ په اوږدو کې عمده رول لوبولی دی او د کرنې اهميت په ټولنيز مجموعې توليد کې او هم د ټولنې او د اقتصاد پرمختګ سره نه يواځی دا چې کم شوی نده بلکې ورځ په ورځ لاهم مخ په زياتېدو دی.

څکه هغه وخت چې صنعت، تجارت، ترانسپورت او د اقتصاد نورو سکتورونو ډېر پرمختګ نه و کړی نو د بشر ټولو توليدي فعاليتونو يواځې د کرنې پورې اړه لرله، خو ورو ورو د صنعت او د اقتصاد د نورو سکتورونو د انکشاف سره بيا هم کرنې خپل نقش فعال ساتلی څکه کرنه د انسانانو لپاره غذايي توکي او د صنعت لپاره اومه توکي برابروي همدارنګه د اقتصاد د انکشاف په اوله مرحله کې کرنه د نورو سکتورونو د انکشاف لپاره سرمايه اوکارګره قوه او د ځينو صنعتي اجناسو د خرڅلاو لپاره بازار برابراوي. کله چې کرنيز توليدات زيات شي، صنعت ته د پروسس لپاره استويل کيږي، په دې توګه دصنعت پرمختګ کرني ته اړ دی، کله چې صنعت زيات توليد وکړي هغه نورو سيمو ته استوي، په دي توګه دا دواړه د کرني محصولاتو پورې اړه پيدا کوي. له بلې خوا کرنيز توليدات خوراکي توکي دي، کله چې باکيفيته خوراکي توکي موجود وي دخلکو صحت ښه وي، که خوراک کم وي دخلکو روغتيا ضعيفه او ټولنيزی ستونزی او فقر رامنځته کيږي (۲).

**د کرنيزو کاروبارونو اهميت**

د کرني سکتور دملي اقتصاد دډيرو مهمو سکتورونو څخه ده او د ملي اقتصاد په جوړښت کي يي تل خپل ځای ساتلی ده په ځانګړي ډول په پرمختيايي هېوادونو کي دغه سکتور دملي اقتصاد په جوړښت کي له نورو سکتورونو څخه زياته ونډه لري او په دي سکتور کي هر ډول تغيرات د ملي اقتصاد جوړښت ته تغير ورکولی شي، په ملي اقتصاد کي د کرني د سکتور اهميت په لاندي ډول دی:

**په ناخالصه داخلی توليد کي ونډه**

دکرني سکتور د ملي عايد په جوړښت کي د زياتي ونډي په لرلو سره په ملي اقتصاد کي ځانګړي اهميت لري، د بيلګی په توګه د افغانستان په اقتصاد کي په ورستيو کلونو کي په کورنيو ناخالصو توليداتو کي د کرني د سکتور ونډه ٪۳۷ ته رسيږي، ددي معنی داده چي دکرني سکتور د ملي اقتصاد په جوړښت کي دنورو سکتورونو په پرتله مخکښ رول لري او ددغه سکتور په برخه کي رامنځته کيدونکي تغيرات مستقيماً د ملي اقتصاد شکل او جوړښت ته تغير ورکولی شي.

### دخوراکي توکو برابرول

دکرني سکتور دهېواد په داخل کي موجوده اړتیاوو ته د خوراکي توکو د برابرولو مسولیت په غاړه لري په ځانګړي ډول هغه هېوادونه چي نفوس يي په چټکی سره وده کوي اوددغه زیاتیدونکو نفوسو تغذیه یوه اړینه چاره ګڼل کیږي دکرني سکتور لا داهمیت وړ ګڼل کیږي، ځکه که چیري په دي هېواد کي د کرني سکتور ونه شي کولي چي خپلو موجوده او راتلونکو نفوسو ته خوراکي مواد برابر نه شي کړلی نومجبوراً دخوراکي موادو وارداتو ته اړتیا پیدا کیږي او په پایله کي د هېواد د تادیاتو په بیلانس منفي اغیزي کوي.

### دصنعت لپاره د خامو موادوو عرضه کول

دکرني سکتور همدا راز په هېواد کي د صنعت د سکتور د پرمختیا په مراحلو کي داړتیا وړ خامو موادو برابرول هم په غاړه لري، دبیلګي په ډول دنساجی تولید چي د پنبي په محصولاتو باندی تکیه لري یا د قند او خوړو تولیداتو لپاره د لبلبو او ګنیو محصولات دخامو موادو په شکل اساسی رول لري. دغه ټول په کرنه ولاړ صنعتونه هغه مهال رامنځته کیدلي شي چي د اړتیا وړ خام مواد يي په سیمه کي موجودیت ولري.

داستخدام ستره سرچینه: هغه هېوادونه چي زیات صنعتي پرمختګ يي نه وي کړی او پرمختللي صنعتي تاسیسات نلري نو دکرني سکتور په نوموړي اقتصاد کي د استخدام یا ګومارني ستره سرچینه ګڼل کیږي، کرنه له پخوا څخه په عنعنوی توګه د یوی پېشي په ډول دخلکو د بوختیا وسیله وه ځکه کرنه داسي بوختیا وه چي خلکو پرته له کوم ځانګړي مهارت څخه په اساني کولي شول چي په ځمکه کي کر کیله پیل او ځان او کورني ته خواړه برابر کړي زمونږ د هېواد په شمول زیاتره پرمختیایي هېوادونو خلک په کلیو او باندېو کي په کرنه باندي ولاړ ژوند لري.

### صنعتي پرمختیا

صنعتي پرمختګ په لومړیو کي په زراعت باندي تکیه لري ځکه زراعت په ځانګړي ډول د صنعت لپاره په دغه مرحله کي بشري ځواک تیاروي ځکه په زیاتره پرمختیایي هېوادونو کي په کرنه کي له اړتیا زیات خلک په کار بوخت وي کوم چي نهایي مولدیت يي صفر او یا هم منفي وي، آن که دغه کسا ن د کرني د سکتور څخه لیری هم شي د کرنیز مولدیت اندازه په خپل حال پاتي کیږي، نو په داسي حالاتو کي دغه اضافي بشريي ځواک کیدلي شي چي په صنعتي بهیر کي ځاي پر ځاي شي. د یو عالم Lewis له نظره که چیري ددغو کسانو لپاره ددوي کورني او پلرونه دخوراکي موادو

تهیه کولو ته ادامه ورکړي نو په صنعت کي ددي جذب شوو کسانو عاید دبیا ځلي پانګي اچوني لپاره ځانګړي کیدلی شي.

**د اسعارو د ترلاسره کولو سرچینه**

ځیني هېوادونه چي ستر کرنیز سکتور لري او زیاتره صادراتي توکي یي کرنیز محصولات تشکیلوي داسعارو د لاسته راوړني ستره سرچینه یي همدغه کرنیز صادرات ګڼل کیږي، چي ددغو ترلاسه شوو اسعارو په مرسته بیا کولي شو چي د هېواد د پرمختیا لپاره له بهر څخه نوي تکنالوژی او ماشینري را وارده کړو، همدا راز دکرنیزو توکو دغه تجارت د نسبي مزیت د نظریي له مخي په نړیواله کچه د سرچینو او وسایلو د غوره تخصیص سبب ګرځي. بلاخره د کرنیزو توکو صادرات کولي شي چي د بهر سره ددغه هېواد په معاملاتو کي د تادیاتو بیلانس د حالت د ښه والي سبب هم شي (۲).

**د کرنیزو کاروبارونو پیژندنه**

زراعتي واړه کاروبارونه هغه کاروبارونه دي چي په فردي یاهم په ټولنیز ډول تولیدات او خدمات ارائه کوي، لږې سرمایې ته اړتیا لري او عایدات یې سره له دې چې لږ وي، خو د کار موندنې، محلي منابعو په کارولو، د خامو توکو د ضیاع په مخنیوي او د راتلونکي صنعت د اساسګذاری په برخه کې ډېر مهم رول لري. په دغو کارونو کې په یوه کارځای کي لږ شمیر بزګر ان فارم لرونکي او مالدار یا کوونکي بوخت وی، ممکن د یوې کورنۍ یو یا دوه غړی پکي بوخت وي او یا هم شاید د خام موادو په شکل تولیدات ولري، چې مالك یې یو تن وي. دې ډول کاروبارونو ته موږ کوچني تجارتونه هم ویلای شو. صنعت هغه پروسه ده چې دهغې په ترڅ کې خام او نیم کاره توکي په صنعتي کارتمامو محصولاتو بدلیږي. پدې ډول تجارتونو کې کوچني پانګوال، د تولید او خدماتو وړاندې کوونکي، صلاحیت او مسؤلیت لرونکي او بالاخره مالیه تادیه کوونکي هماغه یو نفر د کاروبار مالك وي (۳).

**په اقتصاد کې د کرنیزو کاروبارونو موثریت**

د زراعتي کوچنیو کاروبارونو یو ښه والي دا دی چې، محلي منابع لکه ځمکه، اوبه او بوټې په ښه ډول تر استفادي لاندي راځي. دځمکې او دکر کیلې ستونزې، زراعتي بیکاري، کرنیز پورونه، دزراعتي محصولاتو لپاره بازار موندنه، زراعتي کوپراتیفونه، دزراعتي محصولاتو قیمتونه، دځمکې څخه ښه استفاده دمصارفو راکمول او دضایعاتو مخنیوي او بالاخره دګټې زیاتوالی ټول هغه په زړه پوري مسایل وه چې څېړني او پلټني ته یي اړتیا احساسیدله.

اوس مهال کرنه په یو اقتصاد کې د مادي تولید یوه اساسي برخه او دملي اقتصاد په سکتورونو کي یو مولد سکتور دی چې د نړۍ د ډېرو هېوادونو په تېره بیا د ېرته پاتې او پرمختیایي هېوادونو په ټولنیز مجموعي تولید کې فعاله ونډه لري,همدارنګه د نفت لرونکو هېوادونو څخه پرته د نړۍ د ټولو پرمختیایي هېوادونو د بشري قوی زیاتره برخه د کرنې په سکتور کې بوخته ده.چې په دې توګه د دې هېوادونو د صادراتو او ملي عاید عمده برخه کرنیز محصولات تشکیلوي (۳).

کرنې د بشري تاریخ په اوږدو کې عمده رول لوبولی دی او د کرنې اهمیت په ټولنیز مجموعې تولید کې او هم د ټولنې او د اقتصاد پرمختګ سره نه یواځې دا چې کم شوي نده بلکي ورځ په ورځ لاهم مخ په زیاتېدو دي.

ځکه هغه وخت چې صنعت او د اقتصاد نورو سکتورونو ډېر پرمختګ نه و کړی نو د بشر ټولو تولیدي فعالیتونو یواځې د کرنې پورې اړه لرله خو د صنعت او د اقتصاد د نورو سکتورونو د انکشاف سره بیا هم کرنې خپل نقش فعال ساتلی، ځکه کرنه د انسانانو لپاره غذایي توکي او د صنعت لپاره اومه توکي برابروي همدارنګه د اقتصاد د انکشاف په اوله مرحله کې کرنه د نورو سکتورونو د انکشاف لپاره سرمایه اوکارګره قوه اود ځینو صنعتي توکو د خرڅلاو لپاره بازار برابراوي. اوس چې افغانستان پنځه د وچې بندرونه او یو د چابهار سمندری بندر فعاله کړی دی، دافغانستان وچه او تازه میوه او نورو لوړ ارزښت لرونکو زراعتي تولیداتو د صادرلو ښه چانس برابر شوي چي د خپل هېواد په مارکټ یی بهر ته صادر کړو. ددغو تولیداتو ښه بازار به زموږ اقتصاد تقویه او بیکاری او بیوزلی به له منځه یوسي (۲).

موږ په افغانستان کې هم دا هیله لرو چې زراعتي کوچنیو کاروبارونو او تجارت ته په پاملرنې سره به دغه سکتور ترقي وکړي او په ملي اقتصاد کي به د پرمختیا لامل شي او د راتلونکي قوي صنعت او لویې پانګونې بنسټ به جوړ کړي.

**په افغانستان کې د وړو کرنیزو کاروبارونو اهمیت**

په افغانستان کې د کرنې د سکتور د پانګونې ډیر لوړ فرصت شته. کرنه( پرته له تریاکو) د ملي ناخالصو تولیداتو څلورمه برخه جوړوي چې د خدماتو له سکتور څخه وروسته دوهم لوي سکتور بلل کیږي. دهېواد په سلو کې له اتیا څخه زیات وګړي او په سلو کې نوي بیوزله خلک په کلیوالي سیمو کې اوسیږي. کرنه ددوي په معیشت کې مهم رول لري. د نیمایي شاوخوا کورنۍ خپل عواید له کرنې څخه ترلاسه کوي، دکار ځواک په سلو کې څلویښت برخه په کرنه کې بوخته ده. کرنه او کانونه هغه دوه سکتورونه دي چې په راتلونکي کې د هېواد د اقتصاد په ودې کې مهم رول لري، چې کولای

شي هېواد ته د اسعارو په تولید او ددولت عوایدو کې ځانګړی ځای ولري. دا ټکي کولای شي له بهرنیو مرستو سره د افغانستان تړلتیا را کمه کړي، خو ددې دواړو له منځه کرنه د استخدام ډیر زیات امکانات لري. دغه سکتور د کار د تولید د زیاتوالي اړخونه لري چې د ښځو او نورو محرومو قشرونو( بیوزلانو، بې ځمکو خلکو، کوچیانو) لپاره ګټور دي او دا په کلیوالي سیمو کې غذایي مصئونیت ښه کوي او بیوزلي راکموي (۳).

دهېواد زیات نفوس ته په کتو سره، له یوه پراخه اقتصادي موډل سره د ورته کولو له لارې روښانه کیږي، چې د کرنې سکتور باید هرکال کم له کمه په سلو کې شپږسلنه وده ولري. که چیرې غواړو چې د کلیوالي سیمو عواید لوړ کړو، د ودې دغه اندازه تقریبا د هغې ودې دوه براره ده چې په تیره یوه لسیزه کې کرنې درلوده. دغې اندازې ودې ته رسیدل، له ستونزو ډک، خو ممکن ده: له نیکه مرغه افغانستان د خپلې ودې د چټکتیا لپاره بیلابیل فرصتونه لري چې د بنسټونو له بیارغونې نیولې، تر هغې تکنالوژۍ پورې چې د جګړو په کلونوکې ویجاړه شوي ټول پکښې راځي. دغه فرصتونه د کرنې د ګړندۍ ودې لپاره یو ښه فرصت برابروي (۳).

افغانستان غوندې په وروسته پاتې هېوادونو کې د وړو کاروبارونو ایجاد بیخي زیات مهم او د پلې کیدو وړ دی، ځکه د داسې هېوادونو وګړي د سترو کمپنیو د جوړلو وس نه لري، په افغانستان کې د وړو کاروبارونو د ایجاد اړتیا له دې څخه هم قیاس کولای شوچې، ډیر افغانان بېکاره ګرځي او کلونه کلونه د دندې پلټنه کوي خو خپله ددې فکر نه کوي چې یو عادي کار وبار را پیل کړي، همدارنګه په نوره نړۍ کې د دولتي دندو سربیره شخصي کمپنۍ او ادارې هم په زیات حجم سره کارمندان استخداموي چې په افغانستان کې دا برخه هم بیخي په نشت حساب ده، نو د بېکارۍ کچې کمولو لپاره لازمه ده چې زراعتي  کوچني کاروبارونه رامنځته شي.له بل پلوه، که وکتل شي افغانستان یو مصرفي هېواد دی چې خلک یې زیاتو خوړو، پوښاک، روغتیایي خدماتو، علمی څیړنې او بالاخره یو عادي تولیدي او خدماتي برخې ته هم اړتیا لري نو د داسې یوه هېواد لپاره ضرور ده چې واړه کرنیزکاروبارونه، فارمونه او مالدارۍ یې ایجاد، تقویه او بالاخره په سترو تولیدي او خدماتي کمپنیو بدل شي (۲).

**په افغانستان کې د کرنیزو کاروبارونو ساحې و تحلیل**

د بشریت له پیدایښت سره سم دهغوي دخوراک او لباس ضرورتونه رامنځته شول اودهمدغه ضرورتونو درفع کولو لپاره انسانان له هماغه ورځې په ځمکه کې په لټه کې دي. دوخت په تیریدو

سره نفوس زیات او دانسانانو په ضرورتونو کې تنوع او زیاتوالی رامنځته شو، چې په نتیجه کې په ځمکه کې ترسره کیدونکو فعالیتونو دنوو ضرورتونو په رامنځته کیدلو سره تغیر وکړ. دوخت په تیریدوسره ورو ورو کرنیز تولید یې تجارتي او سرمایوي بڼه غوره کړه او زراعتي فعالیتونه په صنعتي شکل رامنځته شول. په فارمونو کې دعوایدو او مصارفو دتخمین او دګټې دزیاتولو هڅې شروع شوې او په نتیجه کې یې تر پخوا زیاتې ځمکې دکرنیز پوښښ لاندې راغلې. بالاخره داسې وخت راغی چې دځمکې کمښت احساس شو او دپراخه کرنې په ځای دژورې او بهترې کرنې ضرورت پیدا شو. داچې له یوی خوا نفوس هم په چټکۍ سره مخ په زیاتیدو وه اوبله اړخه داقتصاد نورې برخې هم لا تردی مهاله پر مخ نه وې تللي نو خلک په همدې سکتور کې په کار او روزګار بوخت شول. په تدریج سره د کرني ارزښت په ملي اقتصاد کې زیات شوي دي. ددغه سکتور په برخه کې رامنځته کیدونکي تغیرات مستقیماً د ملي اقتصاد شکل او جوړښت ته مثبت تغیر ورکولای شي. کرنه دهېواد په داخل کې موجوده اړتیاوو ته د خوراکي توکو د برابرولو مسولیت په غاړه لري په ځانګړي ډول هغه هېوادونه چې نفوس یې په چټکۍ سره وده کوی اوددغه زیاتیدونکو نفوسو تغذیه کې دکرني سکتور لا داهمیت وړ ګڼل کیږي. په افغانستان کې زراعتي کاروبار او کلیوالي تشبثات د کرنیز –ژوند زونونو په طبقه بندي کې په کروندو کې د ساحوي څیړنو او څیړنیزو ستیشنونو په بشپړې شبکې تاکید کیږي تر څو د بزګرانو، ترویج او څیړنې په رایوځای کولو کې کار وکړي. ضرورت دی چې د لومړنیو موادو په هکله د ځانګړي څیړنې برسیره د اوبو لګولو، درمند کولو، له درمند وروسته تکنالوژیو، د کرنې او مالدارۍ د محصولاتو د پروسس او مارکیټنګ او اقتصادي چارو په هکله هم باید څیړنې وشي. زموږ له تحلیل سره سم، په دغه کاروبارونو کې د کرنې او مالدارۍ د محصولاتو په اړه په څیړنه باندې ډېر تأکید کیږي چې په هېواد کې لوړ اقتصادي ارزښت لري او د ارزشي زنجیرې سره مرسته کوي او کوچنیو کروندو ته ډېر ګټور دي (۲).

**پایلې او مناقشه**

د یو شمیر هېوادونو دتجاربو څخه دا وموندل شوه چې کوچني کاروبارونه د راتلونکي لوی صنعت او لویې پانګې لپاره بنسټ جوړوي. اوسنیو لویو کمپنیو له کوچني کاروبار څخه پیل کړی، هر چا له یوه عادي ځېز څخه پیل کړېدي لکه د انګلیسي ژبې دا مشهوره جمله کې چې وایي Everything starts as nothing چې هر څه له هیڅ څه څخه پیل شویدي. زموږ په هېواد کې د نوښت او پانګونې زښت ډېر امکانات شته، دیرې داسې سرچینی لرو چې تراوسه مو استفادی لاندي ندي راوستي، په داسې حال کې چې بیکاری ډېره زیاته شوي ده. زموږ یو شمیر لاسی کاروبارونه ډېر

ښه شهرت او مارکيټ لري، خو بيا هم موږ هغو ته وده نده ورکړې او توجه ورته نشته. يو شمير خلک مو پيسې لري، خو د يوی کوچني پانگې په توگه يې په کار نه اچوي، دوی وړوکي خطر ته غاړه نه ږدی او د خطر منل يې ندی تجربه کړي. خلک متل کوی چې گټه په تاوان کيږي، نو په کار ده چي نوښتگرمتشبثين ولرو او خپل ملي توليد زيات کړو. هغه نړيوالې کمپنۍ چې اوس يې د نړۍ هر گوټ ته توليدات او خدمات رسولي دي، له گراجونو، سرک غاړو وړو دوکانونو، زير زمينيو او د ليلې له اطاقونو يې کارونه را پيل کړی دي چې نن په ټوله نړۍ راج چلوي.

لنډه دا چې د داسې کاروبارونو د ايجاد لپاره افغانستان ضرورت لري او ښه زمينه هم ورته برابره ده ځکه چې افغانستان يو مصرفي هېواد دی، دولت او پانگوال هم بايد دې ټکې ته پام وکړي چې په نورو هېوادونو کې د پانگونې پرځای په خپل هېواد کې پانگونه وکړي. څرنگه چې د څيړنې له محتوياتو څخه جوته شوه، کرنه نه يواځې په افغانستان کې، بلکې گڼ شمير هېوادونو کې يو مهم مولد سکتور دی، چې اقتصادي پرمختيا کې مهم رول لري. موږ په دې څېړنه کي دافغانستان په ملي اقتصاد او بهرنۍ سوداگرۍ کې د کرنيزو محصولاتو د ونډې او نقش په هکله دغه موضوع ثابته کړه. د کرني سکتور يوه ستره الهی تحفه ده چي په حيرانوونکي ډول دستر غوړيدونکي ظرفيت لرونکي ده ، دکرني توليداتو ته که په پرتله ايز ډول وکتل شي نوبيلابيلو وختونو کي د توليد مقدار دفی واحد ځمکي څخه تل مخ په زياتيدلو ده ،په دی مانا چي د زياتيدونکو نفوسو د اړتياوو د رفع کولو په منظور په ځمکه باندی د پرمختللي تکنالوژی استعمال ښه اداره او تنظيم کولای شي د ځمکي مولديت لوړکړی او وخت په وخت دغو زياتيدونکو اړتياوو ته ځواب ووايي.

**وړانديزونه**

کوچني کاروبارونه زموږ د هېواد لپاره د راتلونکي اقتصادي د پرمختگ اساس جوړوی، پکار ده چي د يو شمير مهارت لرونکو حرفوی او مسلکي متشبشنو د روزنې لپاره حرفوی ښوونځی جوړ او دوی به له حرفوی زده کړو وروسته کوچني کاروبارونه شروع او د خپل ځان او هېواد لپاره به گټور تمام شي. د دې ترڅنگ بايد رسنی د کورنيو توليداتو لپاره اعلانات وکړی او دوی سره دبازار موندنی برخه کي مرسته وکړی. ډيره مهمه ده چي گمرکونه د هغو توکو د واردولو مخه ونيسي کوم چي دلته د هېواد دننه توليديږي. د کوچنيو کاروبارونو او کورنيو صنايعو ملاتړ کول د دولت مهمه دنده ده. همدارنگه د کرنې په پاليسيو کې بايد د قيمتونو پاليسيو ته ونډه ورکړل شي.

**اخځلیکونه**


۱. اداره مرکزی احصایه، ارزیابی ملی خطرات و آسیب پذیری ۱۳۹۱-۱۳۹۰ سروی وضعیت زندگی در افغانستان، کابل، اداره مرکزی احصایه،۱۳۹۳

۲. آریانا دایرة المعارف، شپږم (د ص حرف) جلد، د افغانستان د علومو اکاډمي، د نبراسکا مطبعه: کابل – افغانستان، ۱۳۹٦.

۳. دودیال م‌ب. دطبیعي منابعو اقتصاد، دکرنې پوهنځی لپاره درسي کتاب، د لوړو زده کړو وزارت د نشراتو دریاست چاپ، کابل ـ افغانستان، ۱۳۸۴.

۴. فضل ف. اقتصاد انکشاف زراعتي، درسي کتاب- کابل – افغانستان، ۱۳۹۵.

5. Georg W. Norton, Jeffry Alwan and William A Masters. Economic of Agricultural Development, world food systems and resource use (second edition): Taylor & Francis e-Library USA, 2010
6. Evan D, John WG. Agricultural Economics (second edition). Oklahama Panhandle State University, 2004; 12-23.
7. Jhingan ML. The Economics of Development and Planning (30 edition). New Delhi, 1993; 23-30.
8. Mankiw D. Principles of Economics (6th edition) H arvard University USA, 2005.
9. Norton, GW. Economics of Agricultural development. World Food System and resource use. 2d edition London and New York, 2010.
10. Reusse E. Economic and marketing aspects of pest-harvest system in small farmer economies. FAO Monthly Bulletin of Agric. Economoics and Statistics, 2011.